# Summaries in Pashto

**جګړه د راتلونکی لپاره: د *posttraumatic* بالقوه وده په هغه ځوانانو کی چی د یوګندا په شمال کی مسله قواوو پوری تړلی وه. لیکوالان *Louise Steen Kryger & Cille Løwe Lindgren*:**

دا مقاله د *posttraumatic* بالقوه وده په هغه ځوانانو
کی وړاندی کوی چی د یوګندا په شمال کی مسله قواوو
Lords Resistance Army (LRA) پوری تړلی وه، د
د ولسو داسی کسانو دژوند له څیړنی او مطالعی څخه په
د مقصد چی د *posttraumatic* بالقوه وده د مسله
ګرو پونو(LRA) سره د پاتی کیدو وروسته. د د ی پیښی
تعبیری تحلیل *(IPA)* میتو د څلو رو موضوع ګانی یا
حقایق را څرګند کړل:۱) ټولنیز مرسته یا ملاتړ، ۲) برخه
اخستنه، ۳) د خپل ځان نه آګاهی لرل او۴) عقیده په
خدای (ج) ده. د ی موضوع ګانو دهغه پینځو فکتورونو
څخه دڅلورو نمایندهګی کوی چی ***PTG*** پری اندازه
کیږی. اساسی ارزښتونه او کلتوری پوهی، که څه هم، د
***PTG*** امکانات ډیر شکمن کوی. خو بیا هم ددی څلورو
موضو ګانو بیا کتنه او ***PTG*** یو ښه بنیاد ددی لپاره
جوړوی چی ښه توجو په راتلونکو(interventions)
کړنو یا کارونو باندی وشی په هغه ځوانانو کی د ودی
امکانات زیاتوی چی په مسله قواوو Lords Resistance
Army (LRA) پوری تړلی وه.

**کلیدی الفاظ:** وده د ذهنی ټکان څخه وروسته یا ***(PTG)***،
شمالی یوګندا، دخدایانو مقاومه پوځ یا ***(LRA)***، روحی
ټولنیزه مرسته، ځوانان، ماشومان، مسلح شخړی، جنګ، د
پیښی تعبیری تحلیل ***(IPA)*** میتود، کیسی، چانس، برخه
اخستنه، ټولنیزه مرسته، امکانات، عقیده په خدای، دځان په
هکله آګاهی لرل.

---

**تعریفول دروانی روغتیا او روحی ټولنیز په (*IASC*)
لاربنود کی: جوړونکی انتقادات له عقل پوهانو او انسان
پیژندونکو لخواه.**

**لیکول:*Neil Krishan Aggarwal* :**

د (***IASC***) لاربنود جرګه ګی دعقل پیژندنی او روحی
ټولنیزو مسلکی کارکوونکو په راتولولو دنړیوالی لاسته
راوړنی اعلان
وکړ چی په اضطراری حالاتوکی دیو لړ ترلړه غبرګون
جوړ کړی.
پدی کی یوه اختلافی مسله د روانی روغتیا او روحی
ټولنیزی مرستی ( ***mental health* and**
***psychosocial support***) تعریف دی. دیو رسمی
تعریف نشتوالی کولی شی د لړ ترلړه غبرګون په هم غږی
کی مداخله وکړی. په دی ساحه یا مسلک کی دا مقاله
نظری اختلافات څیړی. او د عقلی او انسان پیژندنی اثارو
په له نظره تیرولو یی دمتبا دل تعریف او لاری چاری
وړاندی کوی.

**کلیدی الفاظ: نړیواله** روانی روغتیا، د (***IASC***) لاربنود،
کلتوری عقل پیژندنه، روانی روغتیا، روحی ټولنیزه
مرسته

---

**دروغی جوړی یو نووښت دملکی ټولنو او *'Agape'*
دپخوانیو ماشومانو سرتیرو ترمنځ: لیکوالان: *Daniel
Ruiz Serna & Ines Marchand***

*'Agape'* دروغی جوړی داسی جوړی یوه پروژه ده چی
دجګړی دقربانیانو ترمنځ په کولمبیا کی اود پخوانیو
ماشومانو سرتیرو ترمنځ څوک چی په قانونی ډول هم
دمسلح جګړی قربانیان دی. دا پروژه په پوره ډول
درضاکارانو لخوا څوک چی دسړی تښتونی قربانیان وه،
مها جرو، زده کوونکو او دنورو کولمبیایی اوسیدونکو
لخوا دکانادا په مانتریال کی جوړه شوه. دا مضمون ددی
پروژی پایلی وړاندی کوی: د پخوانیو ماشو مانو سرتیرو
رول دبیا رغونی په پروسه کی دجګړی دډیرو مستقیمو
قربانیانو لپاره، او همدارنګه دهغی پایلی دپخوانیو سرتیرو
ماشومانو لپاره: دجنګ دنورو قربانیانو او دټولنی نور
غړی چی پدی کیی رول لاره. دا پانه دټولنی د ونډی
اهمیت د مسلح جګړی د حل په لټون کی ښکاره کوی.

**کلیدی الفاظ:** ماشوم سرتیری، کانا دا، کولمبیا، روغه
جوړه.

---

**دټولنیزو/ کلتوری دودونو او عقایدو حوارول دټولنی
روانی روغتیا پروګرام جوړول په مغلقو اضطرا ری
حالاتوکی:
راولاړشوی غبرګونونه په دی هکله د *TPO* لخوا په سو
مالیا کی.**

**لیکوالان: *Patrick Onyango Mangen; Richard
Kinyera and Taban Edward***

د سومالیا دمرکزی دولت دراپرزیدو راهیسی د *1991* کا
ل را هیسی، دملک ډیره برخه په ناکراری کی ډوبه وه.
جګړی، غربت، ولږه، او جنسی زورزیاتیوپه لوړه کچه
دروانی او روحی ټولنیزو ستونځو په رامنځته کولو کی و
نډه لرله. د *khat* په لوړه کچه استعمال په ځانګړی ډول د
سړیو په منځ کی دروانی ستونځو په رامنځته کولو کی ستر
رول لرلی. په سومالیا کی ډیروکمو خلکو یا خدماتو دخلکو
روانی ستونځو ته ځواب ویلی ده. د *TPO Uganda* غیر



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.

دولتي مو سسې دمحلي همکارانو له لاري دټولنيزي مرستي په ترتيب کارکاوه ترڅو دخلکو لاسرسي روحي ټولنيزو خدماتو ته ډيرشي. دا مضمون هغه ګامونه تشريح کوي چې دظرفيت جوړوني پروګرام په يو غير ثابت او نازکه حالاتوکي، په دي موخه چې روحي ټولنيزمرستي دعامه خدماتو سره هم غاړي کړي.

**کليدي الفاظ:** سوماليه، ټولنيزه روحي مرسته، رواني روغتيا، مغلق اضطراري حالت،ښځي او ماشومان.

---

**دغزي آلماس: دفلسطيني تنکيو ځوانانو انځورونه او آرزوګاني:**

**ليکوالان:**-*Yoke van der Meulen, Viet Nguyen-Gillham & Rita Giacaman*

په دي څيرنه کي، د فلسطيني زده کوونکو ليکلي هيلي او انځورونه چې ديو ښوونځي له مسابقي څخه غوره شوي وه، ددوی د هيلو او اميدونو دنيا را څرګندوي. بغير لدي چې څوک څومره تاو تريخوالي يا زور زياتي ته معروض يا مخ شوي، سياسي حالات ددوی په هيلو کي په لوړه کچه څرګندېږي. سوله او ددولت موقف پکښي برجسته موضوع ګاني دي. مهاجر ماشومان دسياسي حالاتو په اړه ډير ډير پريشانه ښکاري. دغربي ترانګي دشمالي برخي ماشومان او دکليوالي برخو ماشومان پدي برخه کي لږ علاقه ښکاره کوي ، خو ډير مينه په ماديا تو ک ښکاره کوي.

**کليدي الفاظ:** فلسطيني تنکي ځوانان، اشغال، انځورونه، هيلي، روحي ټولنيز.

---

**روحاني او روحي ټولنيز کارونه په اضطراري حالاتوکي: څلور تبصري او يو ځواب:**

په نورو پاڼو کي چې کومې تبصري راځي د روحانيت او بشري مرستو په حالاتو پوري تړاو لري: يوه څيرنه چې د *World Vision's Haiti earthquake response* دي *Alison Schafer* لخوا شوي ده په ۱۲۱ -۱۳۰- پاڼو د ۸,۲ ګڼه د د ی ژورنال (۲۰۱۰) کال. ليکوال د حايتي دزلزلي څخه وروسته تجارب کاروي اوداسي دلايل وايي چې غيرودلتي موسسات واضح دسته د فعاليتونو نلري چې دمتاثره خلکو روحاني ضرورياتو ته چې ددوی له رواني او ټولنيزحالت سره تړاولري ځواب ووايي. ليکوال داسي وايي چې او شواهد وړاندي کوي چې روحانيت کولي شي په رواني روغتيا ښه تاثير ولري او دپيښو د حل په موندلو کي ښه منبع کيدلي شي. دروحاني او روحي ټولنيز مرستي ترمنځ فاصله نه راوستل کولي شي چې ځيني ديني ارزښتونه تقويه کړي دهغه خلکو لپاره چې د روحي فشار لاندي دي او کيدايشي حتي د حساسو خلکو ميلان مذهب خواته واړوي. دمذهب او روحي ټولنيز و کارونو په اړه ستونځه بی شکه دنورو پلټنو حکم کوي.

دا مسله د *Schafer* مقالي ته څلور تبصري لري. *Grace Onyango* يو تجربه کار روحي ټولنيز کارکوونکی د يوګندا څخه داسي عقيده لري چې روحاني کارونه حتمي ندي چې د تخنيکي رواني او روحي ټولنيز ی مرستي سره پيښ شي. داکس په خپله تجربه کي، داسي وايي چې روحاني تغزيه د مذهب خوريدني سره توپير لري او اضافي توجه ته اړتيا لري دبشري مرستو په کارونوکي. *Michael Paratharayil* څوک چې ديوی عقيدتي غير دولتي مو سسې سره کارکوي، دمذهبي مراسمواو کارونو اهميت ديوی طريقي په توګه په ګوته کو او وايي چې کولي شي د ژوندي پاتي شويو د روحي ټولنيزي روغتيا کي په ښه کيدو کي اړين رول ولري. او د اکس خپله نظريه دجنوب شرقي آسيا په بيلګوسره ثابتوي. *Simon van den Berg, Relinde Reiffers & Leslie Snider* ټول د *WTF* کارکوونکي دي، منې او تاکيد کوي په ټولو بشري کارکوونکو بايد د خلکو روحاني او مذهبي عقايدوته حساس وی، ځکه چې دا دي ټولنيزو ارزښتونو دپاره ده او په عمومي ډول دکلتوري دودونو لپاره، خو پو ښتنه داده چې يو ځانګړي روحي- روحاني طريقي جوړښت ته اړتيا جوړوي او جدا لارښود جوړولو ته اړتيا پيداکوي؟ ارواح پوهان *Cynthia Erikson* او *Fuller Theological Seminary* په ګوته کوي چې خبري او عمل په څه چې خلک عقيده لري، او هڅه وکړي چې وپوهيږي چې عقيده څنګه د ارتباط پيداکوي په اضطراري حالاتوکي. دا اروح پو هه دموجوده کلينيکي طريقو استعمال سفارش کوي: کلتوري جوړښت، داجوړښت طبيبانو ته لارښونه کوي په ګنو لارو چې کلتور په تشخيص او تداوي کي مدغم دي او داکولي شي د سمي طريقي په جوړولو کي مرسته کولي شي. په خپل ځواب کي *Alison Schafer* ښيې چې روحاني تغزيه او روحي او رواني بايد سره لري نشي بلکه په پراخه ډول په بشري کارونو کي شامل شي. لمړی قدم دادي چې د روحانيت خوريدونکي نفوس په روغتيا او په طريقو د بشري مرستو برابرونکو ټولنو سره کولي شي د ژوندي پاتي شويو روغتيا يا ښه والي ټول اړخونو سره مرسته وکړي په اضطراري حالاتوکي.

**کليدي الفاظ:**رواني روغتيا، روحي ټولنيز ی مرستي، رواني روغتيا او روحي ټولنيز ، روحانيتو روحاني تغزيه، روح-روحاني، عقيده.



Copyright © War Trauma Foundation. Unauthorized reproduction of this article is prohibited.